د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهار شنبه ۰٦ رجب ۱۴۴۰هـ | ۱۳-۰۳-۲۰۱۹م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰٦

مطبوعاتي اعلاميه

## لويه جرگه د خلکو واقعي نظر نه، بلکې د امریکا او د هغې د لاسپوڅو سیاسي اجنډا څرګندوي

د افغانستان جمهوري رياست د يوه فرمان له مخې د ۱۳۹۸ لمريز کال د ثور نهمه د سولې لپاره د مشورتي جرګې د جوړېدو نېټه ټاکلې ده. د دغې جرګې څرګنده موخه د خلکو د استازو د مشورو او نظرونو اورېدل، حللاره لټول او د سولې د مذاکراتو د پروسې ګړندي کول بلل شوي دي، ترڅو د جرګې په پای کې دولت ته د سولې تګلاره وټاکي.

د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دې لويې جرګې جوړېدل د هغو لاسپوڅو چارواکو ناکامه هڅه بولي، چې بادار يې له طالبانو سره د امريکايي سولې له پروسې څخه څنګ ته کړي او غواړي له دې لارې په ښکېلو اړخونو فشار راوړي ترڅو دوی هم د سولې په پروسه کې ورګډ کړي. له بله اړخه هڅه کوي چې د دې خاورې د خلکو پر وړاندې د هغوی څه د پاسه يوې نيمې لسيزې پر خيانتونو پرده وغوړوي او په پای کې ځان دروغجن اتل وښيي.

موږ د لويې جرګې ډېر اوږده تاريخ ته اشاره نه کوو، بلکې د تېرو ۱۸ کلونو په اوږدو کې مو وليدل چې لويې جرګې څنګه د ښکېلاکګرو په ګټه پای ته رسېدلې دي. د بېلګې په توګه د ۲۰۰۴م کال د اساسي قانون د لويې جرګې له لارې اوسنی اساسي قانون د يوه غير اسلامي او فرمايشي قانون په توګه د امريکا له خوا د افغانستان پر خلکو و تپل شو. په ۲۰۱۳م کال کې له امريکا سره د امنيتي تړون د لاسليک کولو لويه جرګه چې د خلکو د استازو په نامه د امريکا د سفارت رشوت خوړونکي پکې راټول شوي وو او د رايو په اکثريت يې له يرغلګرې امريکا سره د دغه شرمووونکي امنيتي تړون غوښتنه وکړه، چې اوسني دولت د خپل کار په لومړۍ ورځ ورسره لاسليک کړ او اوس يې يو ځل بيا د سولې لپاره د مشورتي لويې جرګې غږ پورته کړی، ترڅو پر خلکو يوه بله استعماري اجنډا وتپي.

په داسې حال کې چې د اسلام مبين دين د خلکو په چارو کې مشوره پر چارواکو باندې د رعيت حق ګڼي، دغه ډول مشورتي لويې جرګې تل د ناروا کارونو د رواوالي، د استعمار د سياسي اجنډاګانو د تطبيق او د خلکو د واقعي نظر د چوپتيا په موخه د لاسپوڅو چارواکو او د هغوی د بادارانو په فرمايش جوړې شوې دي. له همدې امله حزب التحرير-ولايه افغانستان يو ځل بيا د افغانستان مجاهد ولس مخاطب کوي؛ چې د لويې جرګې له سوړې څخه بيا و نه چيچل شي او د امريکا او د هغې د مزدورانو د سولې د اجنډا لپاره ناوړه وسيله ونه ګرځي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي ويبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ايميل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحرير رسمي ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info